ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.3 2024

# د حافظ الپورۍ د يو منقبت : تجزياتي څېړنه

## AN ANALYTICAL STUDY OF HAFIZ ALPURI'S MANQBAT

**ڈاکٹر شکریہ قادر**
اسسٹنٹ پروفیسر شعبہ پشتو عبدالولی خان یونیورسٹی مردان ۱
**ڈاکٹر بادشاہِ روم**
ایسوسی ایٹ پروفیسر شعبہ پشتو یونیورسٹی اف ملاکنڈ ۲

**Abstract**

*The Manqbat, a well-established poetic tradition in Oriental languages, celebrates human sublimates and religious figures - This tradition is prominent across various Eastern literatures, including Pashto, where classical poets have crafted masterpieces dedicated to Companions, Saints, and religious personalities - Hafiz Alpuri, a renowned Pashto poet, has notably contributed to this tradition with his Manqbat - This article presents an analytical study of one such poem by Hafiz Alpuri, highlighting his profound devotion to these revered personalities and his contributions to religious figures -*

**Keywords** :Hafiz Alpuri, Pashto, Poet, Manqabat, Poetic, tradition, notable, contribution, human, sublimates , religious , figures.

منقبت د عربۍ ژبې لفظ دے جمع يې مناقب ده ـ منقبت لغت کښې ستائينې ، تعريف و توصيف يا ثناء صفت ته وائي ـ په ادبي اصطلاح کښې دا د هغه نظم دپاره پکارولې شي کوم کښې چې د چهار يار، د صحابه کرامو، اولياءکرامو او د دين د بزرګانو په حواله منظوم عقيدت وړاندې کړې شوې وي ، په داسې مناقبو کښې د متعلقه شخصيت د ژوند حالات، کارنامې ، کرامات ، ديني خدمات ، علمي پوهه يا د تزکيه نفس تذکره راوړې شوې وي او د هغه د کردار تعريف و توصيف پکښې بيان شوے وي۔

"" منقبت د " نقب " نه دے ـ د نقب لغوي معني' لټون ده ـ مطلب که د يو شخصيت د کردار ، د هغه ځانګړنې او خوبۍ ولټولې شي او بيان کړې شي ، نو دغې ته منقبت وئيلې شي ـ او په اصطلاح کښې که دغه خوبۍ په نظم کښې راوړې شي نو "" منقبت "" بللې شي ـ " ۱

د پير نصير الدين نصير د ليکنې ترمخه:

ژباړه : ""منقبت د شاعرۍ يو داسې صنف ته وئيلې شي په کوم کښې چې د حضرت علي کرم الله وجه او د نورو امامانو مدحه کړې شوې وي ـخو د خلفائې راشيدين او د دين د نورو بزرګانو په تعريف کښې هم منقبتونه وئيلې شوي دي ـ هم له دې امله وئيلې کېږي چې منقبت هغه صنف دے چې پکښې د بزرګان دين او اصحاب کرام ستائينه شوې وي ـ " ۲

د"زرکاڼے" مصنف د منقبت تعريف څه په دا ډول کوي:

حرف و سخن HARF-O-SUKHAN

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022

Vol.8 No.3 2024

"هغه شعري تخليق چې پکښې د صحابه کرامو ، صوفيانو ، بزرګانو او نېکو خلقو مدح، مينه او صفت وي هغې ته منقبت وئيلے شي، لکه د حمد او نعت يې مخصوص هئيت نشته، شناخت يې له موضوع نه کېږي"۔۳

ډاکټر فرزانه غني په خپل کتاب "ادبي اصناف" کښې د منقبت په ترڅ کښې ليکي

"هغه شعري تخليق چې پکښې د صحابه کرامو ، صوفيانو ، بزرګانو او نېکو خلقو مدح او صفت بيا شوے وي هغې ته منقبت وائي ۔ لکه د حمد او نعت يې مخصوص هئيت نشته پېژندګلو يې د موضوع نه کېږي ۔ تر اوسه منقبتونه په مختلفو هئيتونو کښې ليکلے شوي دي"۔ ۴

د ډاکټر جهان عالم صېب د وينا په رڼا کښې

منقبت د عربۍ د لغته مشتق دے چې ګڼې معنې لري، يعنې توصيف، ثناء، خانداني فضيلت او غوره والے، هنر او عظمت د منقبت جمع مناقب ده ۔ په اصطلاح کښې ترې مراد هغه نظم يا شاعري چې پکښې د اصحابو ، اولياؤ ، او د دين د بزرګانو اوصاف او مدح بيان شوي وي ۔۵

د دغه پورته اقتباساتو په رڼا کښې مونږ وئيلې شو چې منقبت هغه منظوم کلام دے چې پکښې د اصحاب کرامو، اولياء الله ، نيکانو ، بزرګامو او صلحاؤ د شخصيت ، د هغوي د سپېځلي کردار، ځانګړنو، کراماتو ، خوبيو او فضائيلو په حقله منظوم پيرزونې وړاندې کولې شي ۔ د منقبت دپاره د هيئت قېد نشته او دا د شاعر خوښه ده چې په کوم هيئت د متعلقه شخصيت تعريف او توصيف کوي ۔

پښتو ادب کښې د منقبت باقاعده پېلات د روښانيانو د دورې نه شوې دے ۔ چې ددغه دور نزدې نزدې هر شاعر منقبت ليکلې دے او بېلابېلو مذهبي شخصياتو سره د خپلې مينې منظوم اظهار کړے دے ۔ په دغه شاعرانو کښې د ارزاني خويشکي ،مرزاخان انصاري ،علي محمد مخلص ، دولت لواڼے ، کريم داد او د قادر داد نامې شاملې دي ۔ د خوشحال په زرين دور کښې هم اکثر شاعرانو ددغه روايت په تقليد کښې د منقبت تخليق ته دوام بخښلې دے ۔ خپله خوشحال بابا يو شمېر منقبتونه ليکلي دي او د چار يار، پانچ تن پاک او حضرت علي رض په محبت کښې ئې منقبتونه راوړي دي ۔

د خوشحال نه پس زمونږ اکثرو پښتنو شاعرانو دغه سلسله جاري ساتلې ده او مختلفو بزرګانو په شان کښې ئې د منقبت دلارې د خپلو محبتونو اظهار کړے دے ۔ په دغه شاعرانو کښې زمونږ د دولسمې صدۍ يو ياد شاعر حافظ الپورۍ هم دے چې په منقبت ليکلو ئې د خپل کلام ارزښت سيوا کړے دے ۔

د څېړنکارانو مطابق حافظ الپورۍ د زوکړې کال ۱۱۵۹ ھ ټاکل شوې دے چې د عيسوي کال په حساب ترې ۱۷۴۴ء کال راځي ۔ هم په دغه کال دسوات شانګله پار علاقې پۀ کوزه الپورۍ نومې کلي کښې پيدا شوے دے ۔ د هغه خپل نوم عبد الصمد وۀ ليکن د قران پاک حفظ کولو پۀ وجه پۀ حافظ صيب نوم مشهور شو ۔ حافظ عبدالصمد پۀ قبيله مندن يوسفزے وۀ ۔ په هغه زمانه کښې د وېش او وار په وجه به يوسفزي د سوات اؤ سيمې د ميداني علاقو نه بانديني غرئزو علاقو ته تلل نو د دوې مشران هم ورسره تلي وۀ ۔ خو د

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.3 2024

حافظ الپوری د کورنۍ مشران روایت کوي چې د دوي نیکونه د هشنغر دوابې نه د خپلې دښمنۍ له کبله الپورۍ ته پۀ هجرت کولو مجبوره شوي وو.

حافظ الپوری په خپله شاعرۍ کښې د تصوف ، اخلاقیاتو ، حسن وعشق ، او مذهب موضوعات بیان کړي دي . په ژبه ئې د عربۍ ډېرزیات اثر لیدلې شي . د فارسۍ نه ئې هم اثر اخستې دے خو د عربۍ په پرتله ډېر کم دے . حافظ الپورۍ د حمد و نعت نه علاوه په منقبت لیکلو هم خپل قلم تاند ساتلې د ے . په دې مقاله کښې زمونږ د څېړنې اصلي موخه او هدف د هغه په کلام کښې دیو منقبت څېړل دي .

حافظ الپورۍ د پښتو په زړو شاعرانو کښې د رحمان بابا نه پس یاد شاعر دے .چې خپل ځان ئې د شعر په زور په خلقو منلې دے ..دحافظ الپورۍ بابا شاعري د علم و عرفان،د عشق حقیقي او سلوک و معرفت د عارفانه او ناصحانه او کلام تصوف، پند و نصیحت او د دیني اصطلاحاتو او تلمیحاتو یوه قېمتي خزانه ده . . په دغه خزانه کښې د منقبت بېش بها او ناویاته ملغلرې هم شتون لري . خو دلته د هغه په یو منقبت رڼا غورځولې شي .

د حافظ الپورۍ په دیوان کښې د نورو نه علاوه یواوړد منقبت هم دے . دغه منقبت کښې ئې ځنې بزرګان او اولیاء کرام یاد کړي دي . دلته ددغه منقبت بېلا بېل بندونه راخستلې شي چې متعلقه شخصیت په حواله پرې بحث وکړې شي .

"اے بابـــــــــــا د رنـــــــــــــــــد الـــــــــــــــــبلا ده
مـــــــــــا نیـــــــــــــولي لمـــــــــــــــن ســــــــــــــتا
خـــــــــلاص مـــــــــې کـــــــــړه لـــــــــه هـــــــــر فســـــــــاده
مـــــــــــا نیـــــــــــــولي لمـــــــــــــــن ســــــــــــــتا" ۶

دې بند کښې د قاضي محمد عبدالسلام زیارتي په قول د رند البلاد نه مراد " پیر بابا "" سېد علي ترمذي دے . ۷

پیر بابا :

""د دوي خپل اصلي نوم سید علي ترمذي عابدي الحسیني وه. چې په پیر بابا مشهور دے . د دوي شمار د ترمذ په ساداتو کښې کېږي . دوي په کال ۹۰۸ هـ کښې په فندوز کښې پیدا شوي وو . دوي په نسبي توګه د امیر کبیر میر سید علي همداني نه راواخله د سید حسېن اصغر بن امام زېن العابدین بن حضرت امام حسېن سره مېلاوېږي . ددوي پلار سید قنبر علي د همایون په فوځ کښې کماندار وه . د پیر بابا ابتدائي تعلیم او تربیت د هغوي نیکه سید احمد نور یوسف کړې وه. هغه یو عملي صوفي او ولي الله وه. هغوي خپلو مریدانو ته همېشه د شریعت د پابندۍ درس ورکړې دے . " ۸

اے ولـــــــــي اخـــــــــون ځالاکـــــــــه
پـــــــه ظـــــــاهر پـــــــه بـــــاطن پاکـــــــه

مـــــــدام کـــــــړي دې غـــــــذا ده
مـــــــا نيـــــــولي لمـــــــن ســـــــتا ۹

په دې بند کښې حافظ الپورۍ د اخون سالاک په حقله وائي چې ته په ظاهر اوباطن صفا وې ، ځکه نو ما ستا لمن نيولې ده ۔ لياقت خان شمعون ، اخون سالاک داسې راپېژني ۔

""چې د بابا اصلي نامه اکبرشاه وه ۔ او په عوامو کښې د اخون سالاک ، مولا سالاک او اخون بابا په نومونو پېژندلې شو ۔ په نسبي توګه ئې د مشهور افغان قبيلې ترين سره ئې تعلق لرلو ۔ په ترين قبيله کښې ددوي تعلق د دراني څانګې سره وه ۔ د هغه مشران د نسلونو نه د کوريا په کلي ، علاقه چمله د منډڼ بونير تحصيل استوګن وو ۔ اخون سالاک د بونير په کوريا کلي کښې په کال ۱۵۵۸ زېږېدلې او ۱۶۶۸ دشانګلې ضلع په کابل ګرام کښې وفات شوې دے ۔"" ۱۰

ديوانـــــــه اخونـــــــه جانـــــــه
مـــــــولا کـــــــړې قبـــــــول زبانـــــــه
شـــــــوې دلـــــــې خـــــــورې ازاده
مـــــــا نيـــــــولي لمـــــــن ســـــــتا ۱۱

په دغه بند کښې د ديوانه بابا يادونه شوې ده ۔ نامتو مورخ روښن خان د ديوانه بابا په حقله ليکي ۔

""چې خپل نوم ئې جان خان زوے د مراد خان وه ۔ ډېر لوے عالم او شاعر وه ۔ دده تخلص جان وه ۔ ددّ تعلق هم په عمر خېلو کښې د شېر داد خېلو سره وه ۔ دده زيارت د کلپانۍ او مټواني ( بونېر ) په مېنځ کښې په يو اوچت ځاے جوړ دے ۔ "" ۱۲

خو ميا ظاهرشاه قادري ددوي نامه ملا صالح جان المعروف ديوانه بابا ښائي ، او د اخون درويزه بابا په رنګ ئې د پيربابا مريد او د حلقه ارادت نه شماري ۔ ۱۳

يـــــــو عـــــــالم وې بـــــــل شـــــــهيد شـــــــوې
عجيبـــــــه دُرِ فريـــــــد شـــــــوې
د کـــــــانجو ميـــــــا کـــــــريم داده
مـــــــا نيـــــــولي لمـــــــن ســـــــتا۱۴

دغه شان هم په دې منقبت کښې د اخون کريم داد ستائينه کړې شوې ده ۔ ځوک چې د خپل عصر يو لوے بزرګ تېر شوې دے ۔ د اخون درويزه بابا زوے وه ۔ رحيم شاه رحيم ئې تعارف داسې کوي ۔

" ميا کريم داد پۀ کال ۹۷۰ھ کښې د بونېر سلارزو په ميره نومې کلي کښې پيدا شوے وه ۔ دا هغه ورځې وې چې اخون درويزه بابا د خپل استاد ملا سنجر پاپيني په واسطه د پير بابا مريدي اختيار کړې وه ۔ "" ۱۵

ننګيــــــــالے د خپــــــــل حـــــــدود ئـــــــي
معشــــــــوقه د رب معبـــــــــود ئـــــــي
اے چشـــــــــــــتي ميـــــــــــا الله داده
مـــــــا نيـــــــولي لمــــــن ســــــتا ۱۶

الله داد:

الله داد هم د خپل دور رسېدلې پير وه ۔ چې کرامات ئې په تاريخ مرصع کښې درج دي ۔ ريشتين صېب دده په بابله ليکي چې

" عقل ته خو دا بالکل پرېوځي چې دے د درويزه په اولاد کښې داخل دے۔ " ۱۷

د چشتي الله داد په حقله تذکره علمائے کبائر و مشائخ صوبه سرحد ليکي :

""حضرت مياں الله داد چې په چشتي بابا مشهور دے۔ د چشتيه سلسلې مشهور صوفي وو۔ په الـه ډنډ کښې ئې مزار دے ۔ د پلار نوم ئې پير ادم خان افغان وو ۔ الله داد د سفيد بابا کريمداد خپل خورئے يعنې د خور زوے وو۔ د تيرات په جنګ کښې شامل وو۔ په کومه شپه چې ګيري کافرو مياں کريمداد او عبدالحليم شهيدان کړل۔ الله داد په کښې سخت ژوبل شو۔ مګر ژوندے پاتې شو۔ دغه وخت د دۀ د واده صرف يوه هفته شوې وه۔ خو د غزا په شوق او د ماما په جهاد کښې د شرکت د پاره محاذ ته تلے وو۔ مطلب دا چې الله داد د لور د طرفه د اخوان درويزه بابا نمسے وو ۔ د اخون درويزه يوه لور د اله ډهنډ په پير ادم خان واده وه د مياں الله داد په حقله رحيم شاه رحيم تاريخي حقائق څۀ په دا ډول منظوم کړي دي۔ وائي۔

بـــــل مفتـــــي د شـــــيخ ميـــــاں نـــــور چـــــې الله داد ؤ
کلـــــک ملګـــــرے د ميـــــاں نـــــور د هـــــر جهـــــاد ؤ
الله داد د کريمـــــــــــداد ســـــــــــکه خـــــــــــورئے ؤ
پـــــه طاعـــــت او پـــــه خـــــدمت ئـــــې ســـــم مـــــرئے ؤ
د پـــــلار نـــــوم ئـــــې د الله دا پيـــــر ادم خـــــان ؤ
داســـــې وائـــــي چـــــې د نســـــل نـــــه افغـــــان ؤ

الله داد چشتي مأذون ۇ د ماما نه
خلقې ورته راماتې د هر خوا نه
د تيرات په وړومبي جنګ کښې د ے شامل ۇ
د خپل دور په رښتيا مرد کامل ۇ
ددۀ قبر د ے موجود په الٰه ډنډ کښې
دغه کلے د تانې د ے په ګاؤنډ کښې ۱۹

"اے مدې د مېرې رنده
د هر چا د زړه پسنده
اے سني پاک اعتقاده
ما نيولي لمن ستا ۲۰

دې پورته بند کښې حافظ الپورۍ د مد ے بابا تذکره کړې ده ـ مد ے بابا څوک وه ـ څېړنکار عبدالحليم اثر ليکي ـ

" مد ے بابا چې اصلي نوم ئې مديح د ے د ۴۰۰ هـ د زمانې بزرګ د ے ـ په قبيله يوسفز ے د ے ـ په ۳۹۲ هـ کښې د محمود غزنوي سره د قندهار د ارغستان نه د جهاد دپاره راغلے وه ـ دوي د شېخ المشايخ مودود چشتي نه لاس نيوه کړې وه ـ لو ے روحانی پېشوا ، رهنما او ولي الله وه ـ " ۲۱ مزار ئې په مد ے بابا کښې واقع د ے ـ

اے د ښهر ميا حبيبه
ستا روضه ښار ته قريبه
علامه دې د وفا ده
ما نيولي لمن ستا۲۲

د منقبت په دغه برخه کښې حافظ الپورۍ د ستر ولي ميا حبيب اوصاف بيان کړې دي ـ د روحاني رابطه او روحاني تړون ترمخه :

"" د ميا حبيب خپل نوم حبيب الله د ے ، په کال ۹۸۷ هـ کښې په سرهند کښې زېږېدلې د ے ـ د ادم بنوري نه ئې بيعت کړے د ے ـ او په کال ۱۰۶۱ هـ کښې ئې پېښور ته تشريف راوړ ے د ے ـ لو ے ولي الله تېر شو ے د ے ـ هم دلته په پېښور کښې په ۱۰۹۳ هـ کښې وفات شوې د ے ـ مزار ئې د وزير باغ په مغربي ګوشه کښې د ے ـ " ۲۳

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.3 2024

اے زیږیـــــــــــه شـــــــــــیخ رحمکــــــــــاره
وي زاهـــــــــد پـــــــــه رب روئیـــــــــداره
اے د پـــــــــاک مـــــــــولا منقـــــــــاده
مـــــــا نیـــــــولي لمـــــــن ســـــــتا۲۴

په بره بند کښې د شیخ رحمکار نامه او صفت راغلې دے ۔ مشهور مورّخ عبدالقیوم د شیخ رحمکار (رح) خپل نوم او د پلار نامه داسې راښائي۔ د دوی خپل نوم کستیر ګل وو۔ د پلار نوم ئې شیخ بهادر بابا وو۔ ځوک چې د خپلې زمانې قطب وو"" ۲۵
شمس الدین کاکا خېل هم د شیخ رحمکار نامه کستیر ګل ښودلې ده۔
چـــې ئـــې ایښـــے مـــور او پـــلار دے
پـــه کســـتیر نـــوم نامـــدار دے"" ۲۶

سید بهادر شاه ظفر کاکاخېل د"مقامات قطبیه" په حواله د شیخ رحمکار نامه صرف " کستیر" ښودلې ده۔ او د "ګل" لاحقه ورسره د علاقې مینې د رواج نتیجه ښائي"" ۲۷
وړاندې لیکي
"د کاکا صاحب د نسب سلسله په درویشتمه واسطه حضرت امام حسین ته رسي۔ چونکې دغه سلسله د حضرت امام جعفر صادق د مشري صاحبزاده سره یو ځائے کېږي۔ ځکه نو په سیدانو کښې د اسماعیلي سیدانو سره تعلق لري"" ۲۸
قاضي عبدالحلیم اثر افغاني د دوي د پیدائش په حواله داسې رقم طراز دے ۔
" حضرت سیدنا شیخ کاکا صاحب د جعمې په ورځ وخت صبح صادق د شعبان المعظم په دیریشتم تاریخ یا د رمضان المبارک په یکم تاریخ (ورځ شکمنه ده) په کال ۹۸۱ هـ کښې پیدا شو۔ په دغه زمانه کښې په برصغیر پاک وهند د جلال الدین اکبر مغل حکومت وو۔ رحمکار د دوي لقب دے۔ دغه شان کاکا صاحب هم د دوي لقب دے"" ۲۹
ستر څېړنکار زلمي هېواد مل ئې د مور بي بي په حقله وائي ۔
"د کاکا صاحب مور عزیز بخته نومېده۔ چې هغه هم خټکه وه۔ او ماینه ئې هم پاسین خېله وه۔ چې ادکه بي بي به ئې بلله" ۳۰
د مشاهیر سرحد لیکوال ئې د لاس نیوې په ترځ کښې خپل خیال داسې څرګندوي۔
" د مجمع البرکات نه دا خبره جوتېږي چې هغوي په سهروردیه سلسله کښې د خپل پلار نه لاس نیوه کړې وه۔ ولې پوهان د دوي د پیر نوم د کوهاټ حاجي بهادر ښائي۔ او د دوي خاص مرید

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.3 2024

اخوند اسماعیل د دوي مرشد پیر سباک یادوي ۔ دغه شان میر احمد شاه رضواني په خپل کتاب تحفه الاولیاء کښې د دوي د پیر نامه اخوند پنجو بابا ښودلې ده"" ۳۱

خو د خوشحال خان خټک د لیک په رڼا کښې دا پورته درج کړې شوې رائې سمې نهٔ ښکاري ۔خوشحال بابا په خپل بیاض کښې د کاکا صاحب د سلسلې په حقله لیکي:

"حضرت شیخ ډیر مرد بزرگوار او متبرک وه ۔ او مرید د خپل پلار وه ۔ اما طریقه ئې اویسي وه ۔ بلکه پلار ئې هم هغه مرتبه درله له یمن اوله برکته د دهٔ وه ۔ چې دې په صلب کښې وه" ۳۲

د تصوف ددې ډول طریقه عبدالحئ حبیبي صیب داسې توضیح کوي ۔

"د اویسي طریقې په ترڅ کښې اویسي هغه څوک دي چې په خپله په طریقت کښې داسې ځائے ته رسېدلي وي ، چې له مرشد او لارښود سره مستقیم صحبت او نېغه اړیکه ونه لري ۔ لکه څنګه چې اویس قرني په روحاني عروج کښې له حضرت محمد a سره روحاني رابطه درلوده۳۳

وړاندې لیکي

"کاکا صاحب په خپل وخت کښې نفوذ او وجاهت درلود ۔ چې د دهٔ عقیدتمندان په ټولو پښتنو قبیلو کښې له اباسینده تر کندهاره خپاره وو"" ۳۴

د کاکا صاحب زوے عبدالحلیم د کاکا صاحب د وفات په حقله داسې لیکي:

" چنانچه وقت نماز پیشین روز جمعه وقت برآمدن خطیب بر منبر برائي خطبه بتاریخ ۲۴ ماه رجب سنه ۱۰۲۳ حضرت ایشان رحلت فرمود وقت عصر دفن کردید ۔ انا لله وانا الیه راجعون۔ عمر ایشان هشتاد سال بود ۔ رحلت در سنه ۱۰۶۳ هجري کردند ۔ بدین حساب به بیتم سال جلوس اکبر بادشاه پیدا شده۔ و به بیت و ششم سال جلوس شاه جهان بادشاه وفات یافت"" ۳۵

ترجمه: دا رنګې د ماسپخین د نمونځ په وخت د جمعې په ورځ په وخت د راتلو د خطیب متبرک ته د پاره د خطبې د زبرګې میاشتې په څلریشتمه کال ۱۰۶۳ هـ شیخ رحمکار رحلت اوکړو ۔ او د مازیګر په وخت خاورو ته اوسپارلے شو ۔عمر د دوي اتیا کاله وو ۔ رحلت ئې په کال ۱۰۶۳ هـ کښې کړے دے ۔ په حساب د بادشاه د وخت نشینۍ په شپږویشتم کال دوي وفات بیا موند ۔

اے د حـــــق پـــــه لـــــور راغبـــــه
درویـــــــزه اخـــــــون صـــــاحبه
روشـــــنائي د دیـــــن پـــــه تـــــا ده
مـــــا نیـــــولي لمـــــن ســـــتا ۳۶

په دغه لوړ بند کښې حافظ الپوری د اخون درویزه دتعریف کړې دے ۔ تذکره الابراروالاشرار د اخون درویزه په اړه داسې معلومات راکوي ۔

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.3 2024

"اخون درویزه بابا نسلاً ترک وو ـ مور ئې د بلخ د سلاطینو نه وه ـ د دۀ مشر نیکه جیون بن جنتي د لغمان نه ننګرها ته کډن شوے وو ـ او هلته ئې په مهمندزو کښې استوګنه اختیار کړې وه" ۳۷

وړاندې لیکي

" دۀ یو خُل مهمندو له دعوت کړے وو ـ چې دغه دوران کښې یو زلمي په توقه یا په بد نیتې خپل ناولي لاسونه د هغه په ږیره د پاکولو په غرض اومږل ـ جیون شوخې اونه زغمله ـ د خپلو ماما خېلو نه ئې مرسته اوغوښته ـ هغوي د جیون لاس اوکړو ـ راغله او دا علاقه ئې د مهندو نه واخسته" ۳۸

" دد ے جیون زوے مته، د مته زوے احمد او د احمد زوے درغان نومېدو ـ دا درغان د پاپینو سره په ننګرهار کښې استوګن وو ـ کله چې یوسفزي د اُلغ بېګ نه خفه شو او ننګرهار ته راغلل ـ نو د درغان زوے سعدي ورسره د دعاګو په طور تلل شو ـ او چې یوسفزي د خېبر په لار راکوزېدل نو دے هم ورسره وو" ۳۹

د پښتو دنثر تاریخي او تنقیدي جائزه کښې مریم بي بي وائي :

""دوي په سوات بونېر کښې میشته شول ـ دوي سعدي ته د دیرشو کسانو برابر برخه ورکړه ـ او بیا چې څۀ وخت پس امیر قوداني په یوسفزو حمله اوکړه ـ نو په جنګ کښې په غلطۍ سره سعدي هم اولګېدو ـ او مړ شو ـ د هغه زوے ګدائي ئې ګرفتار کړو ـ خو چې امیر د صورت حال نه خبر شو ـ نو هغه په دې خفه شو او ګدائي ئې په عزت سره راپرېښود ـ اخون درویزه د دغه ګدائی زوے دے ـ ددۀ د مور نوم بي بي قراري وو"" ۴۰

د مخزن الاسلام مقدمه کښې ئې د استادانو ذکر داسې راغلے دے ـ

"اخون درویزه صاحب چې د علم خوند واخستو ـ نو بیا ئې د مُلا سید مصر احمد ملارنګي پاپني او مُلا سنجر پاپیني په علومو تنده سړۀ نۀ شوه ـ او د علم په تلاش کښې هندوستان ته هم لاړو ـ د هندوستان په علماءُ کښې هغه یو د مُلا جمال الدین هندوستاني ذکر کوي " ۴۱

پروفېسر محمد افضل رضا ئې د پیربابا سره د اړیکو په بابله لیکي :

" درویزه د وخت د سره ډېر هوښیار او زیرک وو ـ او بیا خدائې پاک د پیر بابا غوندې ستر عالم باندې پېښ کړو ـ په بونېر کښې ئې د پیر بابا مریدي اختیار کړه ـ اخوند درویزه د خپل وخت ستر عالم او لیکوال وو ـ او بیا د بایزید سره په څنو مذهبي مناظرو ئې نوم تر لرې خور شو"" ۴۲

لوے څېړنکار استاد هېواد مل ئې د مخزن یادوؤنه داسې کوي

" د اخوند درویزه په اثارو کښې د زیات شهرت لرونکي اثر د دهٔ مخزن السلام دے، چې د ګڼو رسالو مجموعوده. مخزن السلام د اخوند درویزه د زوي اخوند کریم داد بابا راټول کړي دي"" ۴۳

ګلشن روه مقدمه کښې د استاد رشاد د لیکنې له مخه اخون کریم داد ""د ۱۰۲۴ هـ کال د محرم د میاشتې په یویشتمه له ټولولو او ترتیب څخه فارغ شوي دي. کریم داد له مخزن سره خپل اثار او رسائل د اخوند درویزه د ورور مُلا اصغر نظم هم ورسره ملګرتیا کړې ده"" ۴۴

بي بي مریم د اخون درویزه د تصنیفاتو تذکره په دې ټکو کوي

" د اخوند درویزه په کتابونو کښې تذکره الابرار والاشرار، ارشاد الطالبین او مخزن الاسلام چاپ شوي دي. دې سره سره د قصیده امالي شرح او ارشاد امریدین هم د اخون درویزه تالیفات دي. داسې ښکاري چې اخون درویزه تذکره الابرار والاشرار د بایزید د حالنامې، ارشاد الطالبین ئې د فخر الطالبین او ارشاد المریدین ئې د مقصود المؤمنین په مقابله کښې لیکلي دي. او مخزن ئې د خیرالبیان په مخالف کښې لیکلے دے"" ۴۵

اثر افغاني د هغوي د مړینې او مزار په لړ کښې داسې رقم طراز دے

"د خزینه الاصفیاء د بیان مطابق اخوند درویزه بابا په کال ۱۰۴۸ هـ کښې په حق رسېدلے دے. په دې حساب سره د دهٔ عمر ۱۰۹ کاله جوړېږي. زیات ئې د پېښور ښهر د ګنج دروازې نه بهر د پېښور ښهر په لویه ادیره کښې د هزار خانې نومې کلي سره نزدې واقع دے"" ۴۶

د ملتـــــــــان شـــــــــمس تبریــــــــــزه
ســــــتا شـــــغله پـــــه هـــــر چـــــا تېـــــزه
پــــــــه دښـــــــــمن ســـــــــیف الفــــــــولاده
مـــــــا نیــــــــولي لمـــــــــن ســـــــــتا ۴۷

د بزرګانو د ستائینې په لړ کښې دا بند د شمس تبرېز ستائینه لري. د شمس تبرېز د ژوکړي او حالاتو په ترڅ کښې امتیاز حسېن شاه لیکي.

نوم ئې سید شمس الدین سبزواري او لقب ئې شمس الفقراء وه. د پلار نامه ئې سید صلاح الدین وه. دوي په کال ۵۶۰ هـ کښې په سبزوار کښې پیدا شوې دي. پلار ئې د خپل وخت لوے ولي الله وه. د مور نوم ئې سیده فاظمه وه. دینی علوم ئې د خپل تره سید عبدالهادي نه حاصل کړي وو. د دیني تبلیغ په سلسله کښې د بدخشان او کشمیر سفرونه کړي دي، په کال

۵۸۶ هـ کښې ئې په سبزوار کښې نکاح وکړه ـ ددغه بي بي نه ئې دوه زامن پيدا شوي دي چې سيد نصيرالدين محمد او سيد علاوالدين احمد نومېدل ـ ۴۸

يو بل ليکوال محمد دين فوق وائي :

"په کال ۶۰۰ هـ کښې د پلار په اجازت تبريز ته لاړ ، ځکه چې تبريز د هغوي ډېر زيات خوښ وه ـ دغلته هغوي د تبليغ کار ته دوام وبخښلو ـ هم له دې امله دوي ته سرکارتبريز وئيلې شي ـ ۴۹"

د تذکره اوليائے ملتان تر مخه :

""څه موده ددوي پلار اوو‌ژلې شو ، او دوي اول عراق ته لاړل او بيائې د هندوستان مخه وکړه په ۶۶۴ هـ کښې ملتان ته راغلل ـ او دلته ئې استوګنه اختيار کړه ـ دلته په کال ۶۷۴ هـ کښې د يو سل څوارلس کاله په عمر کښې وفات شول ـ "" ۵۰

د اجميـــــــــر ميــــــــا شــــــــا شــــــرفه
لــــــــــــه درګاهـــــــــــه مشـــــــــــرفه
ومـــــــــې نــــــــه باســــــې لـــــــه يـــــاده
مــــــــا نيـــــــولي لمـــــــــن ســــــــتا ۵۱

د اجمير د ميا شرف په حواله ما معلومات حاصل نه کړې شوه ـ خو د حافظ الپوری ددغه شعرونو نه جوتيږي چې دا هم يو ښکاره ولي او بزرګ تېر شوې دے ـ يو اجمير په هندوستان کښې دے اوبل دلته دحافظ الپوری په ګاونډ کښې هم شتون لري ـ ما د شانګلې د اجمير معلومات وکړل خودغلته د ميا شرف په حقله چا څه درک رانکړو

د بغــــــــــــداد غـــــــــــوث العظمـــــــــــــه
مشــــــــــــــــــرفه مکرمـــــــــــــــــــــــه
اے د پـــــــــــــــاک نبـــــــــــــــــي اولاده
مــــــــا نيــــــــولي لمــــــــن ســــــــتا ۵۲

په دې اشعارو کښې د غوث العظم يادونه شوې ده ـ

" غوث العظم ، شیخ عبدالقادر جیلاني رح يو باعمله عالم او شريعت پابند ولي الله وه . . . .
ددوي پوره نوم عبدالقادر بن ابوصالح وه. د مور له خوا حسيني او د پلار له اړخه حسني سيد
وه . ولادت ئې په کال ۱۷۴ هـ کښې په جیلان کښې شوې دے . په دغه نسبت ورته جیلاني
وئيلې کېږي . دوي پوره لس اتيا کاله د خداے مخلوق ته د خپلې مبارکې هستۍ فیوض
ورسول او په کال ۵۶۱ هـ کښې وفات شول . "" ۵۳

د کـــــــــوفي امـــــــــام صـــــــــاحبه
د رســـــول د خـــــدائـــــيي نـــائـــــيبــــه
د امــــــــــت ټولـــــــــه پــــــــه تـــــــا ده
مــــــــــا نيـــــــــولي لمــــــــــن ســــــــــتا ۵۴

حافظ الپوری دغه شعرونه د امام اعظم په صفت کښې وئيلې دي . امام ابو حنيفه مولانا شبلي نعماني
په سيرت النعمان کښې د حماد (رح) تذکره داسې کوي .

"حضرت حماد د کوفې يو نامتو امام او دوخت استاد و ،ددوئ شمار په تابعينو کښې
کيدو ،خپله ئې د حضرت انس نه حديثونه اوريدلي وو ،او د نورو لويولويو تابعينو د صحبت
نه هم فيض ياب شوے و ،په دغه اوان په کوفه کښې صرف ددوئ مدرسه وه . چې اولسې ورته
راماتې وې ،مسعر او شعبه ثوک چې د فنون امامان وو . هغوئ هم په دغه مدرسه کښې درس
بياموندې و . د حضرت عبدالله مسعود نه چې د فقهي کومه سلسله راروانه وه، حماد هم هغه
سلسله راټينګه کړې وه . بله دا چې وخت ئې مرسته کوله او دولتمند هم و ،فرصت ورسره و ،
اوډير په اطمينان ئې د درس و تدريس کار تر سره کولو . دغه وجه وه چې کله امام ابو حنيفه د
فقّې علم لوستل اوغوښتل نو د استادۍ دپاره ئې دحضرت حماد انتخاب وکړو"" ۵۵

دغسې د پښتو بزرګ ليکوال اسرار د طورو پخپل کتاب "" امام اعظم "" کښې د حماد (رح) مرتبه داسې
راښائي :

"حضرت حماد د مشهور عالم ابراهيم نخعي شاګرد و ،چې حضرت نخعي په کال ۹۵ هجرۍ
کښې وفات شو ،نو ابو عمران اووې چې نن تاسو د ټولو نه لوې فقهي ښخ کړو"" ۵۶

مولانا عبدالقيوم حقاني ددوي او امام صيب د يو بل سره نزديکت په حقله داسې ليکي :

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.3 2024

" امام اعظم ابو حنیفه غالبا'' د څلېریشت کالو په عمر کښې د خپل استاد حماد په خدمت کښې حاضر شو او پوره اتلس کاله د حماد په رفاقت،خدمت ، صحبت او مجلس کښې پاتې شو او په ۱۲۰ هـ کښې امام صیب د یو عظیم او با کماله مجتهد په حېث راښکاره شو۔ ۔ ۔ ۔ د حماد د وفات په وخت د امام ابو حنیفه عمر څلوېښت کاله خواؤ شا وو"" ۵۷

"حضرت حماد په ۱۲۰ هجري کښې وفات شو ،امام ابو حنیفه د حضرت حماد نه علاوه دنورو ګڼو بزرګانو نه هم د فقهې علم حاصل کړے و ،خو دا خبره د شک نه خالي ده چې په دے فن کښې هغه خاص د حضرت حماد تربیت یافته و ،او هم دغه وجه وه چې امام صیب به دهغه د حد نه زیات احترام کولو"" ۵۸

اے علـــــــي د مــــــــولا شــــــــیره
پـــــه هــــر ځــــائـــــي ســــتا لــــه شمشـــیره

اے حضـــــــــرت ابـــــــــن عفانــــــــــه
لـــــــــــه قـــــــــــادره رب ســـــــــبحانه

اے ابـــــــــــوبکر صـــــــــــــــدیقه
د رســــــــول دحـــــــدائـــــــي رفیقـــــه

زه حــــــــافظ ډېـــــــر کهتـــــــرین یـــــــم
مختـــــــــورن د دوي زمـــــــــین یـــــــم

متکــــــا مــــــــې ســـــــتا عصــــــا ده
مــــــا نیـــــــولي لمــــــن ســــــتا ۵۹

د منقبت په اخري اشعارو کښې حافظ الپوری د حضرت ابو بکر ، حضرت عثمان رض او حضرت علي رض د عظمت او بزرګۍ ستائینه کړې ده ۔

دغه ټولي هستۍ د څه تعارف محتاجي نه دي ۔ البته حافظ الپوری په دغه منقبت کښې د حفظ مراتب خیال نه دي ساتلي ، پکار وه چې دغه محترمې هستۍ ئې د زماني ترتیب په بنیاد ذکر کړې وې ۔ د حافظ الپورۍ ددغه لوړو اشعارو د مطالعي نه بنده په دې نتیجه رسي چې حافظ الپوری یو عملي صوفي وه۔ د سلوک او تصوف د اسرارو او رموزو نه په حقیقي توګه خبر وه ۔ بیا هغه دا اعتراف کوي چې ما ددغه یادو هستیو

لمن نیولي ده ۔ دغه هستۍ ، اولیائے کرام او بزرګان چې د دنیا دپاره د لارښودنې د رڼا مناري دي ۔ او حافظ الپوری د هغوي په لمن منګولي لګولي دي ۔ نو ددې نه داخبره جوتیږی چې د هغوي برکات او فیوض دحافظ الپوری په برخه کښې راغلي دي او هم دا وجه ده چې حافظ الپوری پخپله هم د لویې درجې ولي الله تیر شوې دے ۔ کرامات او بزرګي ئې نن هم خلق مني ۔

حوالې


۱:https://minhajsisters.com

۲:https://urdunotes.com/lesson/manqabat۲ :

۳: مشتاق مجروح یوسفزے، ذرکانړے، پېښور ، س ن ، ۲۹۰ مخ:

۴: ډاکټر فرزانه غني، ادبي اصناف، پېښور ، ۱۴۸ مخ:

۵: پروفېسر جهان عالم "پښتو ادب په یو نظر کښې" ۲۴ مخ

۶: دیوان حافظ الپوری مرتبه از قاضي محمد عبدالسلام زیارتي، حجازي پریس لاهور ، ۱۹۴۰ ء ، ۴۲ مخ

۷: هم دغه کتاب او مخ (حاشه)

۸:http://www-pirbaba -org

۹: دیوان حافظ الپوری مرتبه از قاضي عبدالسلام زیارتي ، ۴۲ مخ

۱۰: شمعون ، لیاقت خان ، اخون سالاک ، بونیر ، ۲۰۱۶ء ، ۹۲ مخ

۱۱: دیوان حافظ الپوری مرتبه از قاضي عبدالسلام زیارتي ، ۴۲ مخ

۱۲: خان، روشن خان ، یوسفزئ قوم کي سرگزشت ، روشن خان اینډ کمپني ، کراچي ، فروري ۱۹۸۶ ء ، ۴۴۳ او ۴۴۴ مخونه

۱۳: قادري ، ظاهر شاه ، میا ، اخون درویزه بابا ، مکتبه غوثیه مدین سوات ، ۲۰۰۰ء ، ۳۸۵ او ۳۸۶ مخونه

۱۴: دیوان حافظ الپوری مرتبه از قاضي عبدالسلام زیارتي ، ۴۲ مخ

۱۵: رحیم شاه رحیم ، غټه خزانه ، شعیب سنز مینګوره ، س ن ، ۲۴ مخ

۱۶: دیوان حافظ الپوری مرتبه از قاضي عبدالسلام زیارتي ، ۴۲ مخ

۱۷: رشتین: صدیق الله- د کابل کالنی- (مقاله: د پښتو ادب د درې مشهورې کورنۍ) ناشر: پښتو ټولنه کابل- مطبع: عمومي مطبعه کابل- (د ۱۹۴۳ - ۱۹۴۴ کېنه) – ۲۸۶ مخ

۱۸: اخون خلل: میاں عبدالرشید – تذکره علمائے کبار و مشائخ عظام صوبه سرحد (قلمي نسخه)

۱۹: رحیم شاه رحیم، سوات نامه جواب نامه- ناشر: شعیب سنز پبلیشرز مینګوره مطبع نه لري۔ دچاپ کال ۲۰۰۶ء – ۱۰۴ ، ۱۰۵ مخونه

۲۰: دیوان حافظ الپوری مرتبه از قاضي عبدالسلام زیارتي ، ۴۲ مخ

۲۱: روحاني رابطه او روحاني ترون ، از عبدالحلیم اثر ، ج ۱ ، ۲۰۰۴ء ۱۲۸، ۱۲۹ ، ۱۳۰ مخونه

۲۲: دیوان حافظ الپوری مرتبه از قاضي عبدالسلام زیارتي ، ۴۳ مخ

:۲۳ اثر ، عبدالحلیم ، روحاني رابطه او روحاني ترون ، یونیورستي بک ایجنسي پښور، ج ۲ ، کال نه لري ۶۸۸ او ۵۸۹ مخونه
:۲۴ دیوان حافظ الپوری، مرتبه از قاضي عبدالسلام زیارتي ، ۴۳ مخ
:۲۵ عبدالقوم- مشاهیر سرحد ، ناشر: عبدالسلام خان پرنټرز لاهور- مطبع نه لري. سن اشاعت: ۱۹۷۷ء – ۳۰ مخ
:۲۶ کاکاخېل: شمس الدین- مناقب شیخ رحمکار- د پښتو اکېډمي قلمي نسخه نمبر ۱۷۳-
:۲۷ کاکاخېل، سید بهادر شاه ظفر- شیخ رحمکار کاکا صاحب- ناشر: سید بهادر شاه ظفر کاکاخېل- مطبع: ماسټر پرنټرز پښور- طبع دویم می، ۲۰۰۰ء – ۵۸مخ
:۲۸ هم دغه کتاب- ۶۲مخ
:۲۹ روحاني ترون روحاني رابطه (از عبدالحلیم اثر افغاني) – ۵۷۸مخ
۳۰ فراق نامه- (مرتبه زلمے هېواد مل)- ۱۵۹مخ
:۳۱ مشاهیر سرحد (از عبدالقیوم) – ۳۱، ۳۲ مخونه
:۳۲ هم دغه کتاب-۹۸ مخ
:۳۳ هم دغه کتاب-۹۹ مخ
:۳۴ درویزه : اخون،تذکره الابراروالاشرار- ناشر اداره اشاعت سرحد پښور مطبع: نیو ایګل سټار پریس پښور- د چاپ کال نه لري- ۱۰۵مخ
:۳۵ هم دغه کتاب-۶ ۱۰ مخ
:۳۶ دیوان حافظ الپوری، مرتبه از قاضي عبدالسلام زیارتي ، ۴۳ مخ
:۳۷ درویزه : اخون،تذکره الابراروالاشرار- ناشر اداره اشاعت سرحد پښور مطبع: نیو ایګل سټار پریس پښور- د چاپ کال نه لري- ۱۰۵مخ
:۳۸ هم دغه کتاب-۶ ۱۰ مخ
:۳۹ هم دغه کتاب- ۱۴۰ مخ
:۴۰ بي بي مریم – د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جائزه- ناشر: بي بي مریم. مطبع : جدون پریس پښور- سن اشاعت ۱۹۸۷ء -۱۱۱، ۱۱۲ مخونه
:۴۱ درویزه اخون: مخزن- ناشر: پښتو اکېډمي پښور یونیورستي پښور- مطبع: حمدیه پریس پښور- سن اشاعت : فروري ۱۹۶۹ ء- ح مخ
:۴۲ رضا: محمد افضل- د پښتو د نثر تاریخ – ناشر: یونیورستي بک ایجنسي پښور . مطبع : ماسټر پرنټرز پښور- دویم ځل چاپ اکتوبر ۱۹۹۵ء – ۱۵۸، ۱۵۹ مخونه
:۴۳ هېواد مل: زلمے ، په هند کښې د پښتو ژبې او ادبیاتو ایجاد او ودې پړاؤنه ناشر: د افغانستان د علومو اکېډمي . مطبع :شرکت پرنټنګ پریس لاهور- دوهم ځل : ۱۳۷۲هـ ۱۸۷ مخ
:۴۴ راورټي: مېجر هانري جارج – ګلشن روه- ((د پوهاند عبدالشکور رشاد سریزه) – ناشر: د پښتو د پیاوړتیا او پرمختیا اداره- مطبع: دولتي مطبعه کابل- د چاپ کال ۱۳۵۶هـ ۴۷ مخ

۴۵: د پښتو د نثر تاريخي او تنقيدي جائزه- (از بي بي مريم) -۱۱۴ ، ۱۱۵ مخ
۴۶: روحاني رابطه او روحاني تړون –(از عبدالحليم اثر افغاني) -۵۱۴ مخ
۴۷: ديوان حافظ الپوری، مرتبه از قاضي عبدالسلام زيارتي ، ۴۳ مخ
۴۸: امتياز ، حسېن شاه تذکره اوليائے ملتان، ملتان ، ۶۹، ۷۰ مخونه

۴۹: فوق ،محمد دين شمس تبرېز ، لاهور ۔ ۱۹۱۰ ء ، ۵ مخ

۵۰: تذکره ملتان اوليائے ملتان از امتياز حسېن شاه ، ۷۳ مخ

۵۱: ديوان حافظ الپوری، مرتبه از قاضي عبدالسلام زيارتي ، ۴۴ مخ

۵۲: ديوان حافظ الپوری، مرتبه از قاضي عبدالسلام زيارتي ، ۴۴ مخ

۵۳ :https://darululoom-deobandcom/urduarticles/archives/3336

۵۴: ديوان حافظ الپوری، مرتبه از قاضي عبدالسلام زيارتي ، ۴۴ مخ

۵۵: شبلي نعماني،مولانا ۔ سيرت النعمان، سنگ ميل ببليکيشنز، پنجاب پريس لاهور، د اشاعت کال نه لري ، ۳۴،۳۵ مخونه

۵۶: اسرار د طورو ، امام اعظم، يونيورسټي بک ايجنسي، منظور عام پريس پېښور، سن لري ، ۳۱ مخ
۵۷:حقاني ، مولانا عبدالقيوم : امام ابو حنيفه ، موتمر المصنفين اکوړه خټک ، المطبعه العربيه لاهور، ۱۹۹۱ء ، ۵۲، ۵۵ مخونه

۵۸: سيرت النعمان (از شبلي نعماني) ۳۵ مخ

۵۹: ديوان حافظ الپوری، مرتبه از قاضي عبدالسلام زيارتي ، ۴۴ او ۴۵مخونه